روزمره زندګۍ د مسائلو متعلق پر زیات معلوماتو باندې مشتمل مقبول عام مستند **تعلیم دین کورس**

TALEEM-E-DEN COURSE

پښتو

# تعلیمات قرآنی

د سورة فاتحه، سورة عصر او د آخرې لس سورتونو
مختصر وضاحت او د قرآن متعلق اهم معلومات

حصه قرآن 1


مرتب

ابو معاویه مولانا مفتی محمد ایاز صاحب



JAMIA TABLEEGH UL QURAN

هیډ آفس
تعلیم دین کورس

جامعه تبلیغ القرآن
یوسف آباد دله زاک روډ پېښور
091-2245300
0336-9202188

website: www.tableeghulquran.com

E-mail: jamiatq@gmail.com

# فهرست مضامين


| عنوانات | صفحه | عنوانات | صفحه |
|---|---|---|---|
| تمهيد | 3 | دسورة الكوثر خلاصه | 18 |
| دقرآن معلومات | 3 | سورة الكافرون | 19 |
| دقرآن اولنى مخاطبين | 6 | دسورة الكافرون خلاصه | 20 |
| دقرآن حقوق | 6 | سورة النصر | 21 |
| دقرآن پاک پنځه حقونه | 7 | دسورة النصر خلاصه | 21 |
| دقرآن معنیٰ او نومونه | 8 | سورة اللهب | 22 |
| سورة الفاتحه | 9 | دسورة اللهب خلاصه | 23 |
| دسورة فاتحے خلاصه | 10 | سورة الاخلاص | 23 |
| سورة العصر | 12 | دسورة اخلاص خلاصه | 24 |
| دسورة العصر خلاصه | 12 | سورة الفلق | 24 |
| سورة الفيل | 13 | دسورة الفلق خلاصه | 25 |
| دسورة الفيل خلاصه | 14 | سورة الناس | 26 |
| سورة القريش | 15 | دسورة الناس خلاصه | 27 |
| دسورة القريش خلاصه | 16 | | |
| سورة الماعون | 16 | | |
| دسورة ماعون خلاصه | 17 | | |
| سورة الكوثر | 18 | | |

بسم الله الرحمن الرحيم

# تمهید

الله تعالیٰ قرآن پاک دانسان رُشد او هدایت د پاره دنیا ته رالیږلے دے کوم کښے چه د ژوند د تمامو ضروریاتو او مسائلو بیان موجوددے۔

قرآن پاک یو مکمل نظام حیات دے ، نوموږله په حیثیت د مسلمان د قرآن نه خپل ځان خبرول پکار دی ، د پاره د دے چه موږخپل ژوند خائسته کړے شو او د دنیا او آخرت کامیابی او سُور مخے حاصله کړے شو۔

# دقرآن معلومات

١ : د قرآن ټولے سیپارے ٣٠ دی۔

٢ : د قرآن ټول سورتونه ١١٤ دی۔

نوټ: د قرآن د آیتونو مخصوص او محدود حصه د کومے چه آغازاو اختتام متعین وی هغے ته سورت وائی۔

٣ : منزلونه: ٧دی۔

نوټ: په هفته کښے د قران ختمولو دپاره په قران کښے ووه منزلے مقرر کړے شوی دی.

٤ :ټولے سجدے:١٤

٥ : ټولے رکوع ګانے:٥٤٠ ۔

٦ : ټول آیتونه ٦٢٣٦ دی۔

نوټ: دقرآن ټول ایتونو متعلق مشهوره دا ده چي ٦٦٦٦دی
خو صحیح یقینی تعداد دا ایتونو٦٢٣٦دی.

٧: ټول حروف:٣٢٣٧٦٠۔ ټول کلمات:٨٦٤٣٠

(حروف لکه ا،ب،ج وغیره ۔کلمات لکه الحمد ،اللّٰه،الکتاب وغیره۔)

٨ : مکی سورتونه ٨٧ او مدنی سورتونه ٢٧ دی۔

فائده : د مکی سورتونو نه مراد هغه سورتونه دی کوم چه د هجرت نه مخکښے نازل شوی دی او د مدنی سورتونو نه مراد هغه سورتونه دی کوم چه د هجرت نه پس نازل شوی دی۔(د قرآن دنزول موده دمشهور قول مطابق تقریبا ٢٣کاله ده) او دصحیح شمار مطابق دنزول مدت ٢٢کالونه ٥میاشتے او ١٤ ورځے دي.

٩ : د ټولو نه ړومبے نازلیدونکے سورت سورة العلق دے او د ټولو نه آخری سورت سورة النّصر دے۔

۱۰ : دټولو نه لوئے سورت سورةِ بقره دے اود ټولو نه ورکوټے سورت سورة الکوثر دے۔

۱۱ : د ټولو نه لوئے آیت آیةِ مُداینت دے سورت البقره:۲۸۲ پاره:نمبر۳اودټولو نه ورکوټے آیت مدثر: ثم نظر۲۱ پاره :۲

۱۲: دټولونه اخیری نازلیدونکے آیت **اَلۡیَوۡمَ اَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِیۡنَكُمۡ یا ایت الربوٰ یا وَاتَّقُوۡ یَوۡمًا تُرۡجَعُوۡنَ فِیۡهِ اِلَی اللّٰهِ۔**
(بقرة :۲۸۱)

۱۳: په قرآن کښے حروف مقطعات (لکه قٓ،یٰسٓ،الٓمٓ وغیره) د۲۹ سورتونو په ابتداء کښے راغلی دی۔

۱٤: د قرآن کریم هغه سورت کوم چه په هر مونځ کښے لوستے کیږی سورت فاتحه دے۔

۱۵ : د الله نوم په قرآن کښے ۲٦۹۷ ځلے راغلے دے۔

۱٦: هغه سورت د کوم په هر آیت کښے چه د الله نوم دے هغه سورت مجادله پاره :۲۸ دے کوم کښے چه د رب العزت نوم ٤۰ ځلے راغلے دے۔

۱۷: په قرآن کښے ټول د ۲۷ انبیاء کرام نومونه ذکر دی۔

: د ټولو نه زیات د موسیٰ علیه السلام ذکر:۱۲۸ ځله۔

۱۹: په قرآن کښې د صحابي د نوم ذکر:صرف حضرت زید رض

۲۰: په قران کښې ټول دَ27 څناورو نومونه ذکردی.

## دقرآن اولنی مخاطبین لاندینی خلق وو

(۱)اهل کتاب(یهود او نصاری).(۲)صابي(۳)دحق تلاش کونکی هغه خلق چې تو حیدئے پیژندلے وو او بت پرستی ئے پریخودلے وه او دَ یو حق دین په تلاش کښې وو (٤)منافقان (٥)دَ مکے مشرکان(٦)مومنان.

## دقرآن حقوق

الله تعالیٰ په بنی نوع انسان باندے د ټولو نه لوئے احسان او انعام کولو سره خپل عظیم الشان کتاب قرآن پاک راولیږلو کوم چه د هدایت او انسانی ژوند په هره شعبه کښې رهنمائی کونکے دے ۔ لیکن افسوس چه مونږه د قرآن حق صرف د ختمونو تلاوت کول اوپه دهٔ باندے قسم خوړل ګنړلے دے۔ حالانکه د الله تعالیٰ ارشاد دے :اِنَّ الَّذِیۡ فَرَضَ عَلَیۡکَ الۡقُرۡاٰنَ . (قصص:٥٨)

”بیشکه الله هغه ذات دے چا چه تا باندے قرآن فرض (او لا زم) کړیدے۔“

اوس دقرآن فرضیت څه دے؟ دے د پاره اول د قرآن حقوق پیژندل ضروری دی او کله چه د حقوقو علم اوشی نو دَهمدغه حقوقو ادا کول فرض دی۔

## دقرآن پاک پنځه حقونه

١ : په قرآن باندے ایمان راوړل .

٢ : علمِ قرآن (د قرآن پاک علم یعنی الفاظ ،معنیٰ او تفسیر زده کول)

٣ :عمل بالقرآن (د قرآن پاک په احکامو باندے عمل کول)

٤ : تبلیغ او دعوت د قرآن (قرآن پاک نورو ته رسوَل او خورول)

٥ : نفاذ او اقامت د قرآن ( قوانین دقرآن پاک جاری کول او قائمول ، په هغے باندے فیصلے کول، دا خپل قانون جوړول)

# دقران معنیٰ اونومونه

۲۵: د قرآن نومونه :په قرآن کښے د قرآن نور نومونه:

(۱)کتاب (۲)نور (۳)ذکر (٤)قرآن

(٥)فرقان (٦)بیان (۷)تبیان (۸)میزان

(۹)برهان (۱۰)ایمان (۱۱)سبیل الله (۱۲)حبل الله

(۱۳)روح (١٤)رحمت (۱٥)هدایت

دعویٰ او عنوان د قرآن: یعنی د قرآن مرکزی عنوان څه شے دے کوم چه په ده کښے بیانولے شی.

دقرآن عنوان او دعویٰ توحید دے۔

مضامین او تقسیم د قرآن : د قرآن څلور حصے دی:

۱ : د سورت فاتحے نه د سورت مائدے آخره پورے ۔په دے کښے د الله د خالقیت بیان دے ، یعنی دا چه یوازے الله تعالیٰ د تمام کائنات پیدا کونکے دے۔

۲ : د سورت انعام نه د سورت بنی اسرائیل آخره پورے ۔ په دے کښے د ربوبیت بیان دے یعنی یوازے الله تعالیٰ د تمامو مخلوقاتو پالونکے دے۔

۳ : د سورت کهف نه د سورت احزاب آخره پورے ۔ په دے کښے د رحمانیت ،رحیمیت یعنی د برکاتو بیان دے یعنی دا چه یوازے الله تعالیٰ برکتونه اچونکے دے۔

٤ : د سورت سبا نه د سورت الناس آخره پورے۔ په دے کښے دوه مسئلے (د مالکیت او قیامت)بیان دی یعنی دا چه یوازے الله تعالیٰ اختیار مند دے او د جزا او سزا د پاره قیامت راتلونکے دے۔

## (۱)۔۔۔سورة الفاتحه

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

| | | | |
|---|---|---|---|
| اَلْحَمْدُ | لِلّٰهِ | رَبِّ | الْعٰلَمِيْن |
| ټول تعریفونه | الله لره دی | چي پالونكي | د مخلوقات دي |
| اَلرَّحْمٰنِ | الرَّحِيْمِ | مٰلِكِ | يَوْم |
| ډیر مهربان | ډیر بخښونکے | مالك دى | د ورځ |
| الدِّيْنِ | اِيَّاكَ | نَعْبُدُ | وَاِيَّاكَ |
| دقیامت | مونږ ستا | عبادت کوؤ | او خاص ستا نه |
| نَسْتَعِيْنُ | اِهْدِنَا | الصِّرَاطَ | الْمُسْتَقِيْمَ |
| مدد غواړو | اوخایه مونږته | لاره | نیغه |

| عَلَيۡهِمۡ | اَنۡعَمۡتَ | الَّذِيۡنَ | صِرَاطَ |
|---|---|---|---|
| په هغوی | چه تا انعام کړي دے | د هغه خلقو | لاره |
| وَلَاالضَّآلِّيۡنَ | عَلَيۡهِمۡ | الۡمَغۡضُوۡبِ | غَيۡرِ |
| او نه د گمراهانو لاره | په هغوي باندے | چه غضب او لعنت کړے شوے دے | نه دهغه خلقو لاره |

# دسورة فاتحے خلاصه

ترتیب : سورت فاتحه په ترتیب مصحفی کښے نمبر:۱ او په ترتیب نزولی کښے نمبر:۵،د سورت مدثر نه پس نازل شوے دے

د فاتحے دعویٰ،عنوان :توحید دے کوم چه په **اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ** او **اِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَاِيَّاكَ نَسۡتَعِيۡن** کښے ذکر دے۔

تقسیم د سورت فاتحے :سورت فاتحه په دریو حصواو درے خبرو باندے مشتمل ده۔

۱ : په ړومبنو دریو آیتونو کښے د الله رب العزت پنځه صفتونه (۱)الله(۲)رب(۳)رحمٰن (٤)رحیم(۵) مالک۔

۲ : په "**اِيَّاكَ نَعۡبُدُوَاِيَّاكَ نَسۡتَعِيۡنُ**" کښے د الله حق او د

بنده د حق بیان دے۔ د اللّٰه حق دا دے چه انسان دِ صرف د اللّٰه تعالیٰ عبادت کوی۔او د بنده حق دا دے چه اللّٰه تعالیٰ به د هغه مدد کوی او د هغه دعا به قبلوی۔

۳ : **اِهدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ (۵) صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ (۶) غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ (۷)**

کښے دعا او درخواست او د دريو ډلو بيان دے۔

(۱) د **مُنعَم علیهم** (چا باندے چه دالله انعام او احسان دے) بیان۔

(۲) د **مغضوب علیهم** (چا باندے چه د اللّٰه غضب او لعنت دے) بیان۔

(۳) **اَلضَّآلّین** (دَبے علمه گمراهانو خلقو) بیان۔

# (۲)۔۔۔سورة العصر

## اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

## بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

| وَالْعَصْرِ | اِنَّ الْاِنْسَانَ | لَفِيْ خُسْرٍ | اِلَّا |
|---|---|---|---|
| ګواه ده زمانه | بیشکه انسان | په نقصان کښے دي | مګر |
| الَّذِيْنَ | اٰمَنُوْا | وَعَمِلُوا | الصّٰلِحٰتِ |
| نه دی هغه خلق | چاچي ایمان راوړو | اودوی عمل کوی | نیك |
| وَتَوَاصَوْا | بِالْحَقِّ | وَتَوَاصَوْا | بِالصَّبْرِ |
| او تلقین ئے اوکړو یو بل ته | دحق | او وصیت ئے وکړو یو بل ته | د صبر |

# دسورة العصر خلاصه

ترتیب : سورة العصر په ترتیب مصحفی کښے ۱۰۳ او په ترتیب نزولی کښے ۱۳ ،د سورت انشراح نه پس نازل شوے دے۔

دسورت عصر دعوىٰ او عنوان: د انسان د کامیابئ د اصولوبیان .

خلاصه یا حاصل د سورت: په سورت عصر کښے د انسان د

کامیابئ څلور اصول بیان شوی دی، چه هغه انسان کامیاب دے څوک چه دا څلور کارونه کوی،او څوک چه دا کارونه نه کوی هغه ناکامه دے۔

۱ : ایمان (یعنی د توحید عقیده منل او ساتل)

۲ : عمل صالح (یعنی د نبی کریم ﷺ د سنت مطابق عمل کول)

۳ : بیان د حق (د دغه توحید او سنت بیان او اشاعت کول)

٤ : بیان د صبر (د حق په لاره کښے تکلیفونه راتللو باندے پخپله هم مضبوط اوسیدل او نورو ملګرو ته هم د مضبوط اوسیدلو او دصبر کولو تلقین کول)۔

## (۳)۔۔۔سورة الفیل

أَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

| | | | |
|---|---|---|---|
| اَلَمْ تَرَ | كَيْفَ | فَعَلَ | رَبُّكَ |
| نه دي کتل | چه څنګه | سلوك اوکړو | ستا رب |
| بِاَصْحٰبِ الْفِيْلِ | اَلَمْ يَجْعَل | كَيْدَهُمْ | فِيْ تَضْلِيْلٍ |
| دهاتیانو والا سره | ایا نه ووکړے هغه | د هغوی چلونه | تباه |

| | | | |
|---|---|---|---|
| وَّاَرْسَلَ | عَلَيْهِمْ | طَيْرًا | اَبَابِيْلَ |
| او هغه راولیږل | په هغوی باندی | مرغۍ | ډلے ډلے |
| تَرْمِيْهِمْ | بِحِجَارَةٍ | مِّنْ سِجِّيْلٍ | فَجَعَلَهُمْ |
| چي ويشتل به ئے په هغوی | کانړی | دکنکر | پس کړل ئے هغوی |
| كَعَصْفٍ | مَّاْكُوْلٍ | | |
| په شان دبوسو | خوړلي شوو. | | |

# خلاصه دسورة الفيل

ترتیب: سورت فیل په ترتیب مصحفی کښے ۱۰۵ ۔ او ترتیب نزولی کښے ۱۹ دے د سورت کافرون نه پس نازل شوے دے.

دعویٰ او عنوان: منکرانو ته زورنه او ددنیا د عذاب ویره بیانول ۔

خلاصه: په دے سورت کښے د بے دینه خلقو یوه نخه ذکر کوی چی هغه دالله ددین مرکزونه ورانول دی او په مثال کښے دَ اصحاب الفیل واقعه ذکر کوی۔

# (۴)---سورة القریش

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

| | | | |
|---|---|---|---|
| لِاِیْلٰفِ | قُرَیْشٍ | اٖلٰفِهِمْ | رِحْلَةَ |
| چونکه عادت<br>شوی دی | قریش | یعني عادت<br>شوی دی | سفرسره |
| الشِّتَآءِ | وَالصَّیْفِ | فَلْیَعْبُدُوْا | رَبَّ |
| دژمي | او د اوړی | پس هغوی له<br>پکار دي چي<br>دوی عبادت<br>اوکړی | دهغه رب<br>(مالك) |
| هٰذَا | الْبَیْتِ | الَّذِیْٓ | اَطْعَمَهُمْ |
| د دي | کور | هغه چه | ماره کړی<br>ئی دی دوی |
| مِّنْ جُوْعٍ | وَّاٰمَنَهُمْ | مِّنْ خَوْفٍ | |
| د لوږے نه | او امن ئے<br>ورکړی دی | د یرے په<br>خالت کنبی | |

# خلاصه دسورة القریش

ترتیب: سورت قریش په ترتیب مصحفی کښې ۱۰۶ او ترتیب نزولی کښې۲۹ دے پس د سورت تِین نه نازل شوے دے۔

دعویٰ او عنوان: ددنیا نه دبے رغبتئ بیان او زورنه بیانول۔

خلاصه : دبے دینه خلقو بله نخه چې ددین مرکزونه پرېږدی او ددنیا دپاره لرے لرے سفرے کوی۔

# (۵)۔۔۔سورة الماعون

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

| | | | |
|---|---|---|---|
| اَرَءَيْتَ | الَّذِىْ | يُكَذِّبُ | بِالدِّيْنِ |
| ایا ته لیدلي دے | هغه کس | چې دروغژن کنړی | ورځ دبدلے؟ |
| فَذٰلِكَ | الَّذِىْ | يَدُعُّ | الْيَتِيْمَ |
| پس دغه دے | هغه کس | چې دیکښے ورکوی | یتیم ته |
| وَلَا يَحُضُّ | عَلٰى طَعَامِ | الْمِسْكِيْنِ | فَوَيْلٌ |
| او ترغیب نه ورکوی | په خوراک | دمسکین | پس هلاکت |

| | | | |
|---|---|---|---|
| دے | | | |
| سَاهُوْنَ | عَنْ صَلَاتِهِمْ | اَلَّذِيْنَ هُمْ | لِّلْمُصَلِّيْنَ |
| غافل دی | دخپلو مونځونو نه | هغه چه | دمونځ ګزارو دپاره |
| اَلْمَاعُوْنَ | وَيَمْنَعُوْنَ | يُرَآءُوْنَ | اَلَّذِيْنَ هُمْ |
| عام دضرورت ځيز | او منع کوی | ریاکاری کوی | هغه کسان چي |

# خلاصه دسورت ماعون

ترتیب: سورت ماعون په ترتیب مصحفی کښے ۱۰۷ او ترتیب نزولی کښے ۱۷ دے پس دسورت تکاثر نه نازل شوے دے۔

دعویٰ او عنوان: په بدو او غلطو صفتونو باندے زورنه ۔

خلاصه: په دے سورت کښے دبے دینه خلقو بله نخه ذکر کوی چی یتیم او مظلوم خلقو سره ظلم زیاتے کوی۔

# (۲)۔۔۔سورۃ الکوثر

## اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ

## بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

| | | | |
|---|---|---|---|
| اِنَّآ | اَعْطَیْنٰکَ | الْکَوْثَرَ | فَصَلِّ |
| بیشکه | مونږه درکړی دے اے پیغمبرتاته | کوثر | بس مونځ کوي |
| لِرَبِّکَ | وَانْحَرْ | اِنَّ | شَانِئَکَ |
| دخپل رب | او قربانی کوي | بیشکه | ستا دشمن |
| هُوَ | الْاَبْتَرُ | | |
| به | به بے نام ونشان وی | | |

# خلاصه سورۃ الکوثر

ترتیب: سورت کوثر په ترتیب مصحفی کښے ۱۰۸ او په ترتیب نزولی کښے ۱۵ دے پس د سورت عادیات نه نازل شوے دے۔

دعوی او عنوان : دخو صفتونو طرف ته ترغیب۔

خلاصه : دے سورت کښے اللّٰه فرمائی چی بنده ته دوه کارونه زما دپاره وکړه۔ (بدنی عبادت او مالی عبادت)ځه به دوه خیزونه تاله درکړم (۱) خیر کثیر (۲) دشمن به دے تباه کړم۔

# (۷)۔۔۔سورۃ الکافرون

## اَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ

## بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

| | | | |
|---|---|---|---|
| قُلْ | یٰۤاَیُّھَا | الْکٰفِرُوْنَ | لَاۤ اَعْبُدُ |
| اوواېه ته | اے | کافرو! | زه عبادت نه کوم |
| مَا | تَعْبُدُوْنَ | وَلَاۤ اَنْتُمْ | عٰبِدُوْنَ |
| دهغه چا | چه تاسو ئی عبادت کوئ | او نه تاسو | عبادت کونکی ئے |
| مَاۤ | اَعْبُدُ | وَلَاۤ اَنَا | عَابِدٌ |
| د کوم چی | زه عبادت کوم | او نه زه | عبادت کونکی یم |
| مَا | عَبَدْتُّمْ | وَلَاۤ اَنْتُمْ | عٰبِدُوْنَ |
| دا هغه چاچه | تاسوئی عبادت کوي | او نه تاسو | عبادت کونکی ئے |
| مَاۤ | اَعْبُدُ | لَکُمْ | دِیْنُکُمْ |
| د هغه چا | چی زه ئی عبادت کوم | تاسو دپاره دے | ستاسو دین |
| وَلِیَ | دِیْنِ | | |
| او ځما دپاره دے | ځما دین دی | | |

# خلاصه سورة الکافرون

ترتیب: سورت کافرون په ترتیب مصحفی کښې ۱۰۹او ترتیب نزولی کښې۱۸ دے پس د سورت ماعون نه نازل شوے دے۔

دعویٰ او عنوان: دالله دشمنانو سره بائیکاټ کول۔

خلاصه: دے سورت کښے دشرک ددواړوقسمونو (اعتقادی او فعلی) او د بدعت ردکوی۔ او دنیکانو خلقو صفت ذکر کوی چې دضدی او دبے دینه خلقو سره تعلق نه ساتی۔

# (۸)۔۔۔سورة النصر

## اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

## بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

| | | | |
|---|---|---|---|
| اِذَا جَآءَ | نَصْرُ اللّٰهِ | وَالْفَتْحُ | وَرَاَيْتَ |
| کله چې راشي | دالله مدد | او فتح | او ته وینی |
| النَّاسَ | يَدْخُلُوْنَ | فِيْ دِيْنِ | اللّٰهِ |
| خلقو ته | چه هغوی داخلیږی | په دین کښې | د الله |
| اَفْوَاجًا | فَسَبِّحْ | بِحَمْدِ | رَبِّكَ |
| ډلې ډلې | پس پاکې بیانوه | تعریف سره | د خپل رب |
| وَاسْتَغْفِرْهُ | اِنَّهٗ | كَانَ تَوَّابًا | |
| او معافي غواړه | بیشکه هغه | ډیر توبه قبول کونکې دي | |

# خلاصه سورة النصر

ترتیب: سورت نصر په ترتیب کښې ۱۱۰ او ترتیب نزولی کښې ۱۱٤ دے پس د سورت توبه نه نازل شوے دے۔

دعوی او عنوان: مومنانو ته دفتح او دنصرت زیرے۔

خلاصه: په دے سورت کښے وائی چی کافرانوسره تعلق ختم کړئ۔ او په دین کلک شئ نو الله به در سره مدد وکړی۔

## (۹)۔۔۔سورة اللهب

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

| | | | |
|---|---|---|---|
| تَبَّتْ | يَدَا | اَبِيْ لَهَبٍ | |
| مات دي شي | دواړه لاسونه | د ابولهب | |
| وَتَبَّ | مَا اَغْنٰى عَنْهُ | مَالُهٗ | وَمَا |
| او هغه دے هلاك شي | دا د پكار رانشي | د هغه مال | او هغه څه |
| كَسَبَ | سَيَصْلٰى | نَارًا | ذَاتَ لَهَبٍ |
| چې ګټلي ئې وو | زر به داخل شي | اور ته | دلمبو والا |
| وَّامْرَاَتُهٗ | حَمَّالَةَ الْحَطَبِ | فِيْ جِيْدِهَا | حَبْلٌ مِّنْ مَّسَدٍ |
| او دهغه ښځه هم | اوچت كړي كرځيدلے خشاك | د هغے په مرئ كښې | غښتلي رسئ ده |

# خلاصه سورة اللهب

ترتیب: سورت لهب په ترتیب مصحفي کښې ۱۱۱ او په ترتیب نزولي کښې ٦ دے پس د سورت فاتحه نه نازل شوے دے۔

عنوان او دعویٰ: دنصرت او د دشمن دهلاکت نمونه۔

خلاصه: دے سورت کښې دالله دمدد او دشمن دهلاکت یوه نمونه او مثال ذکر کوی په هلاکت دلوئی کافر ابو لهب سره چې داسلام په مقابله کښې ئے هیڅ پکار رانغله.دغه شان به داسلام او د مسلمانو نور دشمنان هم تباه کړی.

# (۱۰)۔۔۔سورة الاخلاص

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

| | | | |
|---|---|---|---|
| قُلْ هُوَ | اللّٰهُ | اَحَدٌ | اَللّٰهُ |
| اووایه هغه ته | الله | یو دی | الله |
| الصَّمَدُ | لَمْ يَلِدْ | وَلَمْ يُوْلَدْ | وَلَمْ يَكُنْ |
| بے نیاز دے | نه دده نه څوك پیدا دی | او نه دی دچا نه پیدا دی | او نشته |
| لَّهٗ | كُفُوًا | اَحَدٌ | |
| د ده | برابر | څوک | |

# د سورة اخلاص خلاصه

ترتیب: سورت اخلاص په ترتیب مصحفی کښې ۱۱۲او په ترتیب نزولی کښې ۲۲ ،د سورت الناس نه پس نازل شوے دے۔

د سورت اخلاص دعویٰ ،عنوان :توحید دے۔

خلاصه یا حاصل د سورت اخلاص: په سورت اخلاص کښې د توحید بیان دے او د شرک رد د پاره پنځه جملے ذکر شوی دی۔

(ا)قُلۡ هُوَاللّٰهُ اَحَدٌ (ب)اَللّٰهُ الصَّمَدُ (ج)لَمۡ يَلِدۡ

(د) وَلَمۡ يُوۡلَدۡ (و)وَلَمۡ يَكُنۡ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ۔

## (۱۱)۔۔۔سورة الفلق

اَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

| قُلۡ | اَعُوۡذُ | بِرَبِّ | الۡفَلَقِ |
|---|---|---|---|
| اوویه | چي زه پناه غوارم | د رب | د سحر نه |
| مِنۡ شَرِّ | مَا | خَلَقَ | وَمِنۡ شَرِّ |
| دشر نه | د هغه څه | چي هغه پیدا کړي دي | او دشرنه |

| غَاسِقٍ | اِذَا وَقَبَ | وَمِنْ شَرِّ | النَّفّٰثٰتِ |
|---|---|---|---|
| شپي د تياري | چي كله خوره شي | او شر نه | د پوكو وهونكو |
| فِي الْعُقَدِ | وَمِنْ شَرِّ | حَاسِدٍ | اِذَا حَسَدَ |
| په غوټو کښے | اود شرنه | دحسد کونکی | چي كله حسد كوى |

# خلاصه:سورة الفلق

ترتیب: سورت فلق په ترتیب مصحفی کښے ۱۱۳ او په ترتیب نزولی کښے ۲۰ د ے پس دسورت فیل نه نازل شوے دے

دعوی او عنوان : د توحید د خزانے حفاظت۔

خلاصه : دَ ایمان او د توحید دحفاظت دپاره دالله په حفاظت کښے ځان راوستل او ددنیوی افتونو نه پناه غوختل۔

# (۱۲)۔۔۔سورۃ الناس

أَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

| | | | |
|---|---|---|---|
| قُلْ | أَعُوْذُ | بِرَبِّ النَّاسِ | مَلِكَ النَّاسِ |
| اے نبي ووايه | پناه غوارم | د خلقو درب نه | دخلقو دبادشاه نه |
| اِلٰهِ النَّاسِ | مِنْ شَرِّ | الْوَسْوَاسِ | الْخَنَّاسِ |
| دخلقو د معبود نه | دشرنه | د وسوسي اچونكى | چي پيتيږى روستو د شرنه |
| الَّذِىْ | يُوَسْوِسُ | فِىْ صُدُوْرِ | النَّاسِ |
| هغه | چه وسوسه أچوى | په سينو كښى | دخلقو |
| مِنَ الْجِنَّةِ | وَالنَّاسِ | | |
| پيريانو نه | او د انسانو نه | | |

# خلاصه:سورة الناس

ترتیب: سورت ناس په ترتیب مصحفی کښې ۱۱٤ او په ترتیب نزولی کښې ۲۱ دے پس د سورت فلق نه نازل شوے دے۔

دعوی او عنوان: د توحید د خزانے حفاظت۔

خلاصه: په دے سورت کښې هم هغه مضمون ذکر دے۔

# دسورة الفلق اوسورة الناس حاصل

دا دواړو سورتونه دمخکی ذکر شوی دتوحید دخزانے د حفاظت دپاره راوړے شوی دی سورة الفلق کښې ددنیوی افتونو نه او سورة الناس کښې داخروی افتونو نه دپناه غوختلو حکم دے.سورة الفلق کښې دالله تعالیٰ یوصفت او څلور مستعاذمنه(شرونه)ذکردی او سورة الناس کښې یو مستعاذمنه (شر)او د الله درے صفتونه ذکر دی چي هغے کښےدانسان درے غټ حالتونه ته اشاره ده ماشوموالے، ځوانی او بوډاوالے. یعنی چي په دے دریواړو حالتونو کښے انسان هم الله ته محتاج دے.